PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

اونیزه خپلواکه تحلیلي خپرونه

اراده

د افغان نشراتي مرکز خپرونه

سال دوم شماره چهل و چهارم
شماره مسلسل ۶۸
چهار شنبه ۲۷ سنبله ۱۳۸۱ هـ ش
۱۱ رجب المرجب ۱۴۲۳ هـ ق
۱۸ سپتامبر ۲۰۰۲ م

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

د ټولنیزو سازمانونو د قانون تائید

د ټولنیزو سازمانونو قانون د وزیرانو د شوراپه غونډه کې چې ورمه ورځ د ګلخانې په مانۍ کې جوړه شوې وه تائید شو.

په دغه غونډه کې چې د انتقالی اسلامی دولت د مرستیال او ملی دفاع د وزیر محترم مارشال فهیم په مشری جوړه شویوه د ټولنیزو سازمانونو په قانون باندې چې د عدلیې د وزارت لخوا په څلورو فصلونو او پنځه ویشتو مادو کښې برابر شوي وو، هر اړخیزي څیړنې او بحثونه وشول، او وروسته بیا د تائید وړ وګرځید. همدا راز په دغه غونډه کښې په یو شمیر نورو مسایلو چې په اجندا کې شاملې وې هر اړخیز بحثونه وشول او اړوندو ځانګو ته لازمی سپارښتنې وشوې.

اراده

باغلی حامد کرزی هیواد ته راستون شو

د افغانستان د انتقالی، اسلامی دولت رئیس محترم حامد کرزی او ورسره ملګري هیات یې ورمه ورځ د غرمې وروسته په دریو بجو هیواد ته راستون شو. د افغانستان د انتقالی، اسلامي دولت رئیس محترم حامد کرزی چې څه موده وړاندې د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي انسامبلي په غونډه او د سپتمبر د یوولسمې پیښې د یادونې په غونډه کښې د ګډون لپاره نیویارك ته تللی و، په دغه دواړو غونډو کې د ګډون څخه وروسته په، نیویارك کښې د ځینې هیوادونو د مشرانو سره ولیدل، او دعلاقې وړ موضوع ګانو باندې یې ورسره خبرې وکړې. د کابل په هوایي نړیوال ډګر کې محترم حامد کرزي ته د انتقالی، اسلامی دولت مرستیالانو، د کابینې غړیو، لوړ رتبه دولتي چارواکو او په کابل کښې میشت ځینې کور دیپلوماتیکو غړو هرکلی ووایه. وروسته بیا محترم حامد کرزی په داسې حال کې چې د اسلامي انتقالي دولت مرستیال او دملی دفاع وزیر محترم مارشال فهیم هم ورسره ملګری وو، د تشریفاتو د ګارد قطعه معاینه او د هغوی د احترام مراتب یې ومنل او بیا د هر کلی کوونکو لیکوته لاړ او د هغوی سره یې روغبر وکړ.

اراده

پاچاخان په شاشو

د پاچا خان ځدراڼ وسله وال قوتونه د خوست او ګردیز ولایت د ستراتیژیکو سیمو څخه په شا وتمبول شول.

په هغه تصفیوی عملیاتو کې چې د پکتیا د قول اردو لخوا په لاره اچول شوی وو، یوه اندازه وسله او مهمات هم لاس ته راغلي او هغه سیمې چې مخکې د پاچاخان ځدراڼ د پلویانو په لاس کې وې د دولتي قواو لخوا نیول شویدي، خبر زیاتوي د پاچاخان ځدراڼ یو شمیر پلویان هم د دولتی قواو خواته را اوښتي او دا ژمنه یې پاتی ۷مخ

د جنرال دوستم او استاد عطا ملګري بیا ونښتل

د مزار شریف او سرپل په ولایاتو کې یو ځل بیا د خپلمنځیو جګړو اوربل او اته کسانو خپل ژوند دلاسه ورکړ. د غربی راډیوګانو د رپوټونو له مخې دغې جګړې چې د ځینو حلقو د منځګړیتوبونو له کبله څه موده قراری شوي وي، او په دغو ولایاتو کې نسبي سوله او امنیت ټینګک شوی وو ډیر دوام یې ونکړ او یو ځل بیا د دوشنبې په ورځ د جنرال دوستم او استاد عطا وسله والو ډلو په یو بل بریدونه وکړه. او په دغو سیمو کې د جګړې اور بیا تود شو.

پاتې ۷ مخ

حادثات ۱۱ سپتمبر و اثرات آن ص۲

آتش های زیر خاکستر ص۲

مردم چی میگویند! ص۸

د لوګر د ولایت د ښوونځیو ستونزې ۴مخ

د لوی او ښښونکی خدای په نامه
سرمقاله

فقط با سیاست صحیح و سالم بانکی می توان افغانی را قوت داد

مبرهن است که انقلاسیون در کشور ما طی دو دهه اخیرشکل از هم گسیخته و مدهشی را اختیار کرده که به آسانی نمیتوان جلو آنرا گرفت. جا گرفتن شخصیت های فاقد صلاحیت و سواد کافی اقتصادی در رأس سیاست های پولی کشور بخصوص در یک دهه اخیر به بانک های کشور و به ویژه به بانک مرکزی افغانستان حیثیت تنها (گاو صندوق بزرگی) را بخشیده است، پولیکه به کانتینر پیمایش و از چندین کانال چندین نوع آن نشر می شد روز تا روز با سرعت هر چه بیشتر اعتبار بانکی، روند پولی و ارزش افغانی را به صفر ضرب می زند. این پولها اگر از یکسو هویت ملی ما را نقش زمین کرد و حیثیت اقتصادی ما را به باد فنا سپرد از سوی دیگر به همسایگان مغرض مان میدان داد تا بخاطر منافع اقتصادی سیاسی خود ها بانکنوت هایشانرا در کشور ما رایج سازند. ص ۷

په راتلونکو دریو میاشتو کې به د حرارتی بریښنا دستګاه فعاله شي

په دې وروستیو ورځو کې د کابل په ښار کې دورځې له خوا ښاریان بریښنا نه لري او هسې هم په ټول افغانستان کې د بریښنا انرژي لږه ده په دې اړوند مو د بریښنا وزارت د مسلکي معین محترم د پیلوم انجینر محمد امین منصف سره یوه مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو. نوموړی ددې پوښتنې په ځواب کې چې په کابل ښار کې د بریښنا د پرچوې علت څه دی وویل: د بریښنا د پرچوي اصلی علت وچکالی ده چې موږ د بریښنا د تولید په فابریکواو بندونو کې په کافي اندازه اوبه نه لرو او هم د تیرو جګړو په بهیر کې د بریښنا اکثره شبکې تخریب شوې او زیان یې لیدلی دی. او موږ غواړو چې د پرچوي په نتیجه کې یوه اندازه اوبه د

ژمې لپاره ذخیره کړو. د بریښنا وزارت د رهبری شورا د پلان له مخې په منظم ډول تصمیم ونیوه چې د یوه پروګرام له مخې له سهاره تر مابنامه پورې ښاریانو ته بریښنا نه ورکوي او یواځې لومړی کټګوری د بریښنا مصرفو ونکو ته لکه د دولت ریاست، صدارت، وزارتونه، مخابرات، د اوبو رسولو سیستم، سفارتونو، هوایي ډګر، روغتونونو، جماتونو، راډیو تلویزیون او نورو ضروري ځایونو ته بریښنا ورکوي.

پاتې ۶مخ

کابل د بهرنیو مرستو په فوکس کې

د ویجاړ شوی او جنګ ځپلی کابل چې سم نیمایی ښار یې دا وخت کنډواله پروت دی د بیا جوړولو دپاره یې وعدې د روان عیسوی کال د جنوري په میاشت کې چې د توکیو د کنفرانس د لارې د افغانستان د بیا رغاونې دپاره د کوم رقم مرسته اعلان شوه داسې یې جوته کړه چې لږ تر لږه د شل فیصده ویجاړ تیا غم به وخوړل شي. افغانانو فکر کاوه چې د توکیو د کنفرانس د مرستو ژمنې ګوندې نغده چغده مرسته ده خو وروسته داسې زیګنالونه ورکول شول چې دلوی جرګې د جوړیدو او د یو نماینده قیادت د منځ ته راتلو نه وروسته خو به د کنفرانس دغه پیسې بې له ځنډه د کابل د واکمنو لاس ته ورشي.

د توکیو د کنفرانس څخه نیژدې اته میاشتې تیریږي د لوې جرګې په نتیجه کې د اجندا سره سم انتقالي دولت جوړ شوی دی خو مرستی لاهماغسې ځوړندې دی اوهیڅ نه معلومیږي چې ددغه رقم څخه څومره پیسې کابل ته ورکول شوي دي په کومو مدارکو مصرف شوي دی او پاتې پیسې به یې د کوم طرز العمل او یا ځانګړو شرایطو لاندې ورکول شي هیڅ چاته موثق او مستند معلومات نشته دی په دې اړه داسې ویل کیږي چې د کابل لوړ رتبه چارواکي لاددې جوګه نه دي چې نغد امریکایي ډالر یې د بیا رغاونې دپاره په لاس کې ورکړشي څکه چې د اقتصادي بحران په دې مهال به سخته وی چې تر لاسه شوي رقم هو بهوپه خپل ځای مصرف شي او په امانت کې دې خیانت ونه شي. ښاغلي حامد کرزي دې خیر یوسي هرچیرې چې په سفر ځي او په هرځای کې چې بیان ورکوي په پوره سیاسي مهارت سره د افغانستان دویجاړتیا او لمړنیو اړتیاو جدول ډیر ښه منعکسوي او په مقابل کې دیادونې وړمرستې وعدې تر لاسه کوي.

زما په یاد دی چې د آلمان اتحادی جمهوریت ته د سفر په وخت کې یې هغه وخت چې ددغه هېواد د صدر اعظم سره ملاقات کاوه، د آلمان صدر اعظم د خپلو خبرو په ترخ کې ښاغلي کرزی مخاطب کړ او ورته وي ویل چې تاسو د مرستو په راټولو لوکی ځانګړې وړتیا او قابلیت لرې خوا مید دی چې تر لاسه شوي مرستې په خپل ځای ولګیږي. د ښاغلی کرزی وروستي سفر که څه هم چې د ملګرو ملتو په عمومي اسامبلې کې د ګډون دپاره د امریکې متحده ایالاتو ته خو په دغه مهال یې چې کوم بیان ورکړ په یقین سره ویلی شو چې د جنګ ځپلي افغانستان اوسنی څیره یې ډیره ښه تصویر کړی وه او نړیوال یې دی ته وهڅول چې ددغه هېواد د بیا رغاونې دپاره عملي او سملاسي مرستې وکړي. د ښاغلي کرزی ددې سفر دلاس ته راوړنو په نتیجه کې دامریکې، سعودي عربستان او جاپان لخوا د سرکونو د جوړولو دپاره یو سلو اتیا میلیونه ډالر یو ښه رقم دی خو په دې شرط چې د توکیو د کنفرانس د مرستو په څیر د اوښ په ښکر پورې ونه تړل شي. د افغانستان مشر په دې سفر کې د ښاغلي بوش سره صمیمي ملاقات او په دغه ملاقات کې د کابل او واشنګټن تر منځ ډیرې صمیمي او تودې خبرې افغانان په دې ډاډه کوي چې امریکا په رینښتیا سره افغانان یوازې نه پریږدي او د ملي د موکراتیک نظام تر ټینګیدو پورې به یې تر دقیقې سیاسي څارنې لاندې وي. په دې ملاقات کې په دې برسیره چې د ښاغلي کرزي تر مشرۍ لاندې رژیم باندې د صحت ټاپه ووهل شوه د افغانانو همکارۍ د تروریزم او القاعدی سره د زیان نه منونکي مبارزې د دوام په اړه ښاغلي بوش ته ټاکونکی ډاډ ورکړ شو. که سړی په تلویزیون کې د وزیرانو او نورو لوړ رتبه اراکینو سره د بهرنیانو په تیره بیا په کابل کې د میشته سفیرانو په ملاقاتونو کې د افغانستان دپاره د بیا رغاونې دپاره د مرستو د ژمنو او پروتوکولونو د لاسلیك کولو بهیر وګوري فکر کوي چې هر څه به ډیر زر سم دم شي او تر لاسه شوي مرستې به ټولې ویجاړتیاوې سمبالې کړي

په داسې حال کې چې انتقالي دولت لا په دې نه دي بریالي شوي چې د خپلو جنګ ځپلو او بحران وهلو مامورینو او خدماتی پرسونل ته په خپل وخت معاشونه او نور اداري حقوق ورکړي. داسې څرګندیږي چې ددغو پروتوکولونو او مرستو ژمنې یوازې د کاغذ په مخ د هماغه خبرې شاټ پورې منحصري دي او په دې لړ کې د تعقیب څارنې اوعملي کولو دپاره هیڅ محرك وجود نلري

سترګه ور

فاروق "فرزین"

آتشهای زیر خاکستر

باوجود که از لویه جرگه آرمانی افغانها چند ماه سپری گردید ولی نتایج و پیامد های آن تا هنوز چنان که میباید، روشن و مشخص نیست و در هاله ابهام قرار دارد، آیا گرد همایی بیش از ۱۵۰۰ نماینده انتخابی افغانهای متوطن و مهاجر که به تاریخ ۲۲ جوزای ۱۳۸۱ در کابل ویران زیر خیمه دایر شد، گامی بود، فوق العاده مهم ملی در راستای تعین سرنوشت آینده مردم ووطن و یا صرف اقدامی در جهت تحقق فیصله های کنفرانس بن؟ و آیا همایش مذکور نتیجه مبارزه مردم بود، یا ثمره مقاومت جبهه متحد و یا دستاورد ضربات ایالات متحده امریکا در مبارزه داخلی بر مثلث باغی القاعده، طالبان و شبکه های لوژستیکی آنها در منطقه؟ همینطور آیا این جرگه بعد از نافر جامی راه حل نظامی، منحیث یگانه راه نیل و میل به کعبه مقصود، طرف رضایت مردم، قناعت جوانب در گیر منازعه و حمایت ملل متحد قرار گرفت و یاخود بحیث ثمره جنگ در نتیجه حل معادله نظامی امریکا و طالبان گل کرد و شگفت؟ این مباحثی است طولانی که در این مختصر نمی گنجد.

بشارتی بود برای اتحاد مجدد اقوام مختلف و متعدد افغانها که باگزینش بابای قوم و انتخاب رئیس دولت، به معمای تعدد رهبران و فقدان زعامت جامع در افغانستان پاسخ داد و رهبری واحد را مشروعیت و قانونیت داد. خلای وسیع قدرت سیاسی نسبتاً محدود گردید و نقش لیدر شپ تنظیمها که تا ابد مردم ووطن را گروگان و غنیمت خویش میپنداشتند، زایل شد. کابل، میزبان این جرگه که طی سالهای اخیر آماج و تاراج قدرتهای محلی قرار گرفته بود، بمثابه پایتخت کشور نقش و اهمیت مرکزی خود را باز یافت. افغانستان نیز از حالت تعلیق و انزوای جهانی برآمد و هویت مسخ شده طالبان آن که به مرکز تروریزم جهانی و سرزمین تریاک مسمی شده بود، تصحیح و اعاده حیثیت شد. این جرگه را که عمدتا متشکل از جوانب در گیر منازعه بود میبایست جرگه مصالحه ملی افغانهای خسته از جنگ و مناقشات لفظی آنها را دمکراسی توجیه کرد، اما ایکاش این دموکراسی با اغراض توأم نمیشد اینکه دستاورد های جرگه کافی و پاسخگوی توقعات مردم نبود و نیست، عامل اساسی آن در نخواستن بود یا در نتوانستن و یاهر دو؟! قابل بحث و مکث است. اگر لویه جرگه به مسایل اعم واهم می پرداخت و مصروف و معطوف قضایای کوچک نمیگردید، یقیناً دستاورد های آن متناسب با اثرات و جرس تدویرش که در صحنهٔ بین المللی بمثابه اعلامیه حیات مجدد افغانستان، طنین انداخت، مضاعف میشد. نبودن اجندای مشخص قبلی، عامل بینظمی، سردرگمی و سر گنجی های جرگه کننده گان شد. اجندا از همان ابتدا عمداً ترتیب و تدوین نگردید و به دسترس و آگاهی همگان قرار نگرفت لذا اکثر شاملان جرگه، با اذهان خالی، تماشاگران محض بودند. تدویر جرگه زیر خیمه نمایشی در ساحهٔ وصحن انستیتوت پولتخنیک کابل در حالی که در آن محل تالار مناسب وجود دارد، عامل دیگر بینظمی بود. عدم تطبیق فیصله های کمیسیون تدارک، نیز بر مشکلات جرگه افزود کاندیدانی که باید قبل از تدویر جرگه وظایف دولتی خویشرا ترک میکردند از رئیس حکومت تا آخرین فرد در کرسیها باقی ماندند، لذا جرگه مثل جرگه های قبلی جز تائید تداوم حاکمیت برسر اقتدار، چاره دیگری نداشت.

کاندیدان مطابق فیصله های کمیسیون تدارک از محل سکونت اصلی انتخاب میشدند. ولی از حوزه های انتخاباتی شهر کابل کاندیدانی به حمایت دستجمعی پرسونل بعضی ادارات برنده شدند که کابلی نبودند همینطور باید مطابق مقررات کمیسیون تدارک، جلو اشتراک کاندیدان متهم به قتل و غارت گرفته میشد. که نشد و گاهی به تهدید و توهین شاملان جرگه و گاهی به تحریم اجلاس متوسل شدند تا جرگه را مبتذل و نتایج را ضرب صفر کنند و لویه جرگه را به لویه جگړه مبدل سازند. دستهای نامرئی نیز بیکار نبودند، جرگه را از مسایل اصلی به فرعی سوق میدادند حکومت ائتلافی، ائتلافی تر و حکومت موقت دایمی ترشد کابینه نه تنها محدود نگردید، بلکه بنابر ملحوظات سیاسی طول و عرض بیشتر یافت، به گمان اغلب که رئیس لویه جرگه و همکارانش بار اول سازماندهی چنین اجلاس عظیم را تمرین می کردند. زنها در جرگه نقش سمبولیک و تصنعی داشتند کاندید یک خانم فاقد تجارب وهویت سیاسی به ریاست دولت سوال برانگیز بود.

بقیه ص ۷

حادثات ۱۱ سپتمبر و اثرات آن

اولتر از همه باید اذعان کرد که این حادثات یکی از واقعات بزرگ و تراژیدی تاریخ معاصر جهان به شمار می آید که اتباع بیش از ۸۰ کشور جهان به شمول بیش از (۱۰۰۰) مسلمان را به کام مرگ کشانید.

بعد از وقوع این حادثه جای شکی باقی نماندکه تروریزم بین المللی در هر جامه و قبایی که جلوه کند هم از دین و مذهب، اعم از ادیان آسمانی و زمینی و غیر از آن و هم از اخلاق و تهذیب و همچنان از اصول کلی بشریت و انسانیت تاچه حد بدور است و برعکس با وحشت و بربریت و امثال آن تقرب و ارتباط ذات البینی و معلومی دارد.

اما با این هم قابل تذکر است که این پدیده تاریخی و کهن یعنی دهشت افگنی، نتواسته است طی قرون متمادی تا ایندم "تعریف" درست و مقنع و منطقی یعنی یک تعریف تا حدی جامع و مانع برای خود در یابد واین مسئله یعنی عدم وجود چنان تعریف برای آن نزد مکاتب جداگانه فکری در ذات خود یکی از مشکلات عمده عالم بشریت را تشکیل میدهد.

مادراین مورد بارها مطالبی به عرض رسانده و اینک باز به آن اشاره می کنیم که اگر چنان تعریفی برای آن بوجود آید شاید بتواند یک فیصدی بزرگی از مصایب و آلام را که جامعه کنونی جهانی (ازاین رهگذر) با آن رو بروست از بین ببرد.

با آنهم با در نظرداشت واقعات ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱ در امریکا و قربانیان آن که به اقوام و ملل و نیز به ادیان متعدد جهان، تعلق داشته و منسوب بودند و اکثر آنها رامردمان بیگناه و بی خطا تشکیل میداد. این کردار را باید مذمت کرد واز تعمیل آن قلباً متأثر گردید.

این واقعات که دنیای موجوده و عالم بشریت را منحیث کل، زلزله آسا مواجه با تکان مدهشی ساخت نه تنها به امریکا بلکه بر همه کشورهای جهان تأثیر عمیق و ناقابل باور داشت که کشور عزیز ما افغانستان و باشندگان آن نه تنهابه سختی از آن متأثر گردید، بلکه به قول مشهور اولین قرعه فال آن به نام ما زده شد.

و افغانستان بار دیگر بعد از یک ربع قرن جنگ و خونریزی مورد حملات سنگین و برق آسای هوائی قرار گرفت.

اثرات بعدی این واقعات به سرعت و صراحت تام بالای جمیع شئون حیاتی بین المللی و اولاد آدم (ع) مشهود و خاصتاً در ساحات سیاسی، اقتصادی و نظامی جهان و کشور ما محسوس گردید.

و اتحاد بزرگ ضد تروریزم با ساز وبرگ مکمل به سرکردگی امریکا تشکیل شد که تا ایندم دست اندکار است اتحادیه ایکه می توان آنرا بی مثال خواند.

باید قانع شد که این واقعات غم زا و فتنه انگیز- در ارتباط با کشور و مردم ما امریکا را به یکبار از خواب گران سیاسی بیدار کرد و این ابر قدرت مغرور و یکه تاز را به تماشای آتش سوزی و ویرانی دوکانون مهم اقتصادی و نظامی آن در نیویارک و واشنگتن نشاند و کشور کوچک و جنگزده و ستمدیده ایراکه به باد فراموشی مطلق سپرده و به آن پشت کرده بود بار دیگر به یاد آن داد و سیاستمداران و واکداران آنرا بار دیگر بیشتر از پیش به یاد این سرزمین ویران و مردم در دام مانده و فراموش شده انداخت و از غفلت یکباره و احمقانه ایکه به آن روا داشته بود، خجل و به اعتراف صریح واداشت.

در این مورد گفتنی ها و اسرار مگوی زیاد است و این داستان رشته دراز و سر درگمی دارد که متأسفانه حتی تحلیل بسیار مجمل آن در این مختصر نمی گنجد و راه دیگری برای کاتب این سطور وجود ندارد بجز آنکه بصورت مجمل و مختصر در باره تأثیرات عمده این حوادث غیر مترقبه که پوره یک سال تام یعنی ۳۶۵ روز ازان می گذرد اشاره ای کرده آید و تذکری داده شود آنهم به اساس اهمیت و ارزشی که این وقایع در امور سیاسی، اقتصادی و نظامی ما تا آینده داشته و در آینده هم خواهد داشت.

؟ تغیر رژیم بصورت تام وختم نفوذ سیاسی، نظامی گروهی چند خارجی و اجنبی که شاید هم تعداد افراد آن بر تعداد محدود طالبان افغان که اکثراً از تبار مجاهدین افغان به شمار می رفتند چربی می کرد.

؟ تأسیس و تدویر کنفرانس یا جرگه بین الافغانی در "بن" به اشتراک تعدادی گلچین از افغان های سر شناس و سیاسی تنظیمی و نیم تنظیمی و هدایت مستقیم ایشان به صوب عقد قرارداد و تعهد نامه ای زیر نظر نمایندگان نخبه سازمان جهانی ملل متحد که در اثر مساعی جمیله آنها این قرارداد تکمیل و تصویب شد.

البته در این میان نقش مستقیم و رول خفی و جلی اضلاع متحده امریکا درجمیع امور و همه ابعاد تعهد نامه (به اصطلاح) از بس عیانست حاجت به بیان ندارد.

به عبارت دیگر تعهد نامه یا قرار دادی که ما افغان ها نتوانستیم و یا ما را نگذاشتند به عقد آن موفق گردیم که در هر دوصورت نمی توان ازین قصور و کوتاهی سیاسی خود را بری الزمه سازیم قراردادی که در اثر فشارهای گوناگون بین المللی و یا در اثر تقاضا و یا ضرورت و یا مصلحت های جهانی به توشیح رسید و طبق پلان های قبلی، در اثر آن برابر با مواد و مفاد متن آن حکومت موقت ۶ ماهه که حکومت عبوری ۱۸ ماهه را در دنبال داشت واینک تحت ریاست شاغلی کرزی دایر و سایر است بوجود آمد.

حکومتی که می توان بنابر ارتباطات وسیع و همه جانبه با اکثر کشور های جهان اعم از دور و نزدیک، مسلمان و غیر مسلمان جنبه ها و ابعاد سیاسی آنرا قوی و جهان شمول توصیف و تلقی کرد.

ناگفته نماند که در این مورد تنی چند انگشت شمار از وکلا و اعضای لویه جرگه اضطرای به شمول راقم الحروف می خواستیم پیشنهاد کنیم که تعهد نامه مورد نظر بین الافغانی بن منحیث کل، به لویه جرگه به منظوری ارایه گردد تا با اکثریت آراء نمایندگان به رسمیت شناخته شده و تصویب گردد تا به این وسیله جوانب و ابعاد حکومت عبوری پایه مرحله قانونی گذارد و این نقیصه بزرگ از بین برود اما باید عرض کرد که در پهلوی تبعیضات دیگر زاده و پرورده انواع تعصبات حتی در دادن نوبت سخنرانی به برخ زیادی از نمایندگان نه تنها تبعیض زیادی در کار بود بلکه ممانعت های صریحی هم به چشم خورد و این آرزو برآورده نشد که نشد.

• خروج سیاسی افغانستان از تنگنای بسیار ضیق تجرد سیاسی که از جمله حتمیات سیاسی به شمار می آید.

؟ برگشت و تشریف آوری اعلیحضرت پادشاه سابق افغانستان به کشور آبایی و عملی شدن طرح ابتکاری لویه جرگه اضطراری ایشان در کابل و افتتاح آن توسط خود ایشان هم عین مسیری را پیمود که عملیه خروج سیاسی ما از مضیقه تجرد سیاسی طی نمود.

برگشت اعلیحضرت شاه سابق را به افغانستان بنا بر اثرات مثبت و اساسی آن در این پروسه کلی ووسیع سیاسی / نظامی که اینک در حال عبور از مرحله دوم خود یعنی حکومت انتقالی می باشد، هرگز نباید دست کم گرفت و ازان سرسری گذشت بلکه برعکس به اعتبار حال و آینده هر دواعم از آینده قریب و بعید بذل توجه مزید بر آن از جمله واجبات سیاسی ارزیابی می گردد که بدون شک هم در مرحله تکوین این پروسه وسیع سیاسی رول مهمی داشته و دارد و هم در تطبیق بی عیب و عار آن در آینده نقش بارز، وزین و اساسی ای خواهد داشت.

اینکه تا چه حد از مواد و مفاد متن اصلی قرارداد "بن" پیروی می شود و یا نه در ذات خود مبحث علیحده ایست که عجالتاً در این مختصر نمی گنجد.

مبحثی که دیر یا زود نیازمند شرح و بسط آن خواهیم شد و زوایای تاریک آن یکی بعد دیگر روشن خواهد گردید.

؟ به هر تقدیر مسایل مهم دیگر از قبیل گسیل قوای صلح بین المللی برای بار اول به افغانستان، به منظور ایجاد و نیز حفظ صلح در کشور جنگزده ما از یکطرف و تدویر یک حکومت مرکزی و لونه چندان قوی، پروگرام های خلع سلاح عمومی یا اقلاً مطرح ساختن آن، احیای اردو و پولیس و ژاندرم ملی عاری از هر گونه قید و بند سیاسی، وعده کمک های مالی در کنفرانس بین المللی توکیو با غفلت و تعللی که در آن به مشاهده می رسد برای بازسازی افغانستان که بیشتر خود آنرا ویران کرده ایم، بازسازی موسساتی در کشور احیای و اقلاً حکم میدیای آزاد و آزادی فکرو بیان و انتقاد سالم و سازنده و امثالهم طرح پلان های عام المنفعه، توجه به حقوق بشر اعم از حقوق اساسی زن و مرد تعمیم معارف و هجوم سیل آسای دختران و پسران محروم ما به مدارس و مکاتب و غیره که ذکر همه نیازمند فهرست طویلی می باشد نیز باید فراموش نگردند چه همه و همه منحیث اجزای یک کل، هر یک در ذات خود در خور اعتبار و دقت است.

و اما تأثیرات آن (حوادث ۱۱ سپتمبر) بر احوال و اوضاع بین المللی و منطقوی و ازان جمله در ارتباط با ادیان بزرگ و پیروان ان مثلاً مسلمین و مسیحیون از یکطرف یهود و فلسطین ها از طرف دیگر و یا هندو ها و مسلمانان هندوستان و کشمیر که خواه ناخواه بالای اکثر مسایل سیاسی، اجتماعی و حتی نظامی منطقه و جهان اثرات مستقیم وغیر مستقیم آن قابل انکار نیست نیز باید در نظر باشد مثلاً: ص ۶

د لوګر د ولایت د ښوونځیو ستونزې

په تیرو دوه نیمو لسیزو کې لوګر ولایت هم لکه د نورو ولایاتو په څیر د جګړو له امله ویجاړ شویدی چې د ښوونې او روزنې برخې د ټولو نه زیاته زیانمنه شویده. د لوګر په ټولو ولسوالیو کې دوه سوه ښوونځی شته چې سل ښوونځی یې رسمي او سل یې غیر رسمي دی او همدارنګه ۱۵۹۸ ښوونکي د راتلونکي نسل په ښوونه او روزنه بوخت دی حال دا چې دڅو میاشتو راهسې دوی ته تنخواه هم نه ده ورکړل شوې. ددغو ښوونکو له جملې څخه ۲۸۵ ښوونکي ښځینه دي. زموږ خبریال د لوګر ولایت د ښوونې او روزنې مرستیال ښاغلی ولي احمد د خولې لیکي:

زموږ ښوونځي همدا اوس ودانی نه لري زده کوونکي د ونو لاندې او شخصي کورونو کې خپل لیك او لوست پر مخ وړي او موږ له ډیرو ستونزو سره لاس او ګریوان یو کله چې باران وي زموږ ښوونځی د زده کوونکو پرمخ تړل کیږي همدا رنګه زموږ ځینې ښوونځی په داسي کورونو کې چې کوټې نه لري او خلکو پکې خپل څاروي تړل موږ د مجبوریت له مخې هغه پاك کړیدي او زموږ ددغه خوار اولس بچې پکې په زده کړه بوخت دي.

نوموړي زیاته کړه:

زموږ ځیني ښوونځي په داسې کورونو کې دي چې خاوندان یې پاکستان ته هجرت کړي و او دغه خلك اوس بیرته خپلو کورونو ته راستانه شویدي اوس دوئ غواړي چې خپل کورونه یې وزګارشي نو موږ مجبور یو چې د هغوی مشکلات هم په نظر کې ونیسو او کورونه ورته وسپارو. زده کوونکي مو پر ځمکه ناست دي درسي څوني نه لرو تدریسي مواد نه لرو خو زموږ زده کوونکې دومره د علم، پوهې او معارف سره مینه لري چې دومره ستونزو سره بیا هم په ډیره مینه ښوونځی ته د زده کړې لپاره راځي. د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې شاغلي ولي احمد وویل:

د لوګر ولایت اولسونو د خپل راتلوونکي نسل د روزلو لپاره ښوونځیو ته ځمکه وقف کړي ده خو تر اوسه هیڅا موږ سره د آبادی لپاره مرسته نه دی کړي او هغه ځمکه شاړه پرته ده او موږ سره هم دا توان نشته چې ښوونځي آباد کړو. دلته څو ځله د بهرنی موسسې کارکوونکي راغلل او زموږ دغه حالت یې په خپلو سترګو ولید موږ سره یې د مرستو وعدې وکړي خو کله چې د لوګر ولایت نه تللي دي نو بیا هیڅا پوښتنه نه ده کړي او موږ ته یې دوعدو کومه نتیجه لا څرګنده شوې نده

همدا راز د بي بي فاطمې لیسې یوي ښوونکې محترمې شفیقې وویل: مرکزي دولت او بهرني موسسو څخه زموږ غوښتنه داده چې موږ فرش نه غواړو تدریسي مواد نه غواړو یوازې او یوازې دی زموږ لپاره د ښونځیوداني جوړې شي ځکه چې ژمی راروان دی نو په دغو رنګو درسي خونو چې کړکۍ او دروازې نه لري ښوونه او روزنه ډیره ګرانه ده.

سباوون

په هیواد کې روغتیایي چارې لا ډیرې پاملرنې ته اړتیا لري

روغتیایي چاروته پاملرنه د هر دولت د چارو په ښنستیزه برخه کې باید ځای ولري

زموږ هیواد چې تیرو جګړو او نا خوالو ډیر ویجاړ کړي په روغتیایي برخه کې هم ډیرو ستونزو سره مخ دی د زده کړې دکچې ټیټوالی دغه راز د روغتیایي اوبو او خوړو لږ والے او نور ددې لامل ګرځیدلي چې زموږ هیوادوال د ډیرو ناروغیو سره لاس او ګریوان شي. له بده مرغه زموږ د روغتونونو نشتوالی او په ټولو سیمو کې د روغتونونو لږوالی ددې سبب ګرځیدلی چې زموږ هیوادوال یا وروسته تداوي شي یا هم د درملنې لپاره د هیواد څخه بهر ولاړشي او یا هم د ناروغی له لاسه دافاني ژوند پریږدي.

له دې کبله زموږدهیواد دولتي چارواکي د نورو مهمو او ضروري مسلو تر څنګ د روغتیایي خدمتونو چارو ته هم باید پاملرنه وکړي. تر هغه ځایه چې په هیواد کې د فعالو روغتونونو حالت لیدل کیږي هغه هم لاسم او د ټولو اړخونو څخه پوره نه دی د بیلګې په ډول د هیواد په مرکز د کابل په ښار کې د ښځینه ناروغانو لپاره د رابعې بلخې روغتون لیدلای شو چې لا ډیرې نیمګړتیاوي لري تر کومه ځایه چې د نوموړي روغتون د ناروغ لرونکو سره مرکې شوي ټول د روغتون د حالت څخه شکایتونه لري او زموږ ناروغان او د ناروغان خپلوان له ډیر زحمت سره مخامخ ده په همدې ډول په نورو روغتونونو کې د درملو لږوالی یا نشتوالی د ډاکټرانو نه پاملرنه، د پسترو نشتوالی یا لږ والے د پاکی او نظافت نه موجودیت له مراجعینو سره د روغتونونو د خدماتي پرسونل ناسم چلند د نوکریوال ډاکټر نه موجودیت او نوري ستونزې شته حتی داسي شکایونه هم موجود دي هغه درمل چې روغتونونو ته راځي بیرته د بازار درملتونونو ته وړاندې کیږي او واسطه خو هغه بله ستونزه ده چې څه ناڅه په ډیرو ځایوکې ورسره مخامخ یو. په همدې ډول د هیواد په لرو پرتو سیمو کې خو حتی د لومړنیو روغتیایي کتنو څخه خلك بې برخې دي زموږ ناروغ لرونکي په ساعتونو پلي او سواره مزلونه کوي څو ډاکټر ته ځان ورسوي او کله کله هم داسي په اصطلاح ډاکټران کتنې تر سره کوي چې یوازې روغتیایي لومړنی. کورسونه یې لوستي څو د هیواد لرې پرتو سیمو کې او همداراز په کلیو او بانډو کې ورته ډاکتر ویل کیږي دا ډاکټران له هغو متخصصو ډاکټرانو نه چې یوازې د یوه سرویس ناروغان معاینه کوي وړاندې ځي او هري ناروغي د درملنې ادعا لري او همدا کار په بې وزلو ناروغانو اجرا کوي چې شاید دډیرو ناروغیو د پرمختګ او د ځینو ناروغانو د مړینې اسباب هم همدغه ډاکټران برابر وي.

که چیري په دې برخه کې ستونزې را وسپړو نو خبره به اوږده شي خو ښه خبر داده چې زموږ دولتي چارواکي او همدا راز نړیوالي موسسې چې روغتیایي برخه کې مرستې رسوي د دغو ټولو ستونزو لپاره ضروري چاري سر ته ورسوي او دولت خو باید هغه د خپلو لومړیتوبونو په ډله کې شامل او پوره پاملرنه ورته وکړي.

شفیق

د مخ د ګنځو په شیلو کې دی د اوښکو سیلابونه راروان دي

ستا د ښکلا رنګینی وړانګې په هرلوری تللی د خپلی ښکلا پواسطه دی په زړونو حکومت کاوه او د خپلې ښکلا پواسطه دې ټول زړونه تل ول کړي وو او ډیر زړونه دی دګوګل څخه ښکار کړی وو او تش ګوګل دې ورته پری ایښی وه نو هر چا به د وړې باز په څیر ستا په لوري الوتل کول او ستا د در په درشل کې به لکه د ملنګ په څیر چلتار په سر او کچکول په تر څنګ کې نیولی و او په شپو شپو به دی په در کې اوسیدل او چاته چې به دی زړه و ددیدن برخه به دی ور ته مات کچکول کې اچوله هغه هم کوم یو نیم نا آشنا او ناپیژندلی شوی وګړی ته او چاته چې به دی زړه نه و هغه به دی د خپل د دره د یوه ګوزار سره د خپل دره بې نوا سترې ستومانه په زړه زخمي شړل د هر چا په زړه کې تاسره ستا د ناوړه سلوك کینه شته دی او د ډیرو سره ستا رټل شوي ټپ ټپونه لا په زړه کې د همیش دپاره پاتې دي تا د خپلې ځوانی په دور کې د هیچا زړه په لاس دی راوړی او همیش دی د راندہ لړم په څیر په خپل او پردي نیش ښخ کړ دی او ستاد نیښ پړسوب یې لاتراوسه په بدن کې پاتې دی چې د غېج اخستلو دپاره در ته به څو ناست وی نو اوس چې دی ځوانی تیره شوې ده او په مخ دی د زړښت ګنځې پیدا شوي دي کناره پروت یې د سترګو څخه دی د اوښکو سیلاب ستا د مخ د ګنځو په شیلو کې را روانی دی صبر او تحمل تا سره هم نور نشته او لکه اوبو اخستې هری لوري ته لاس او پښې اچوې مګر کار دی هیڅ سر نه نیسي...

عاصم ثمرخیلي

خاندی خاندی ښه کور مو کړی دی

زموږ په وطن باندې له جنګ او جګړو وروسته چې اوس د بیا رغاونې او په سرکې یې د ملې یووالی په برخه کې ګام ږدو او ټول هیوادوال د یوه مرکزي باثباته حکومت د پوره واکمنی لپاره لیوال یو نو د هیواد مرکز او ولایاتو ته مساپر هیوادوال په ډیره بیړه راروان دی او په تندیو کې یې د خوښیو نښانې ښکاري خو د غټانو په تندیو کې او هغه ماشومان چې په پردیو هیوادونو کې زیږیدلي او لوي شوي دي او د خپلو کورنیو سره راروان دي زموږ دی وران او ویجاړ وطن او و چو ځمکو او تړو باغونو ته هك پك دی. دا تنکي ځوانان خو به خامخا له ځان سره ددې وران شوي وطن په هکله څه فکر کوي او زه چې دوی ته وګورم د ملا نصرالدین کیسه را یاده شي. وایي د ملا کره یو شپه غله راغلي وو ښځې خپل میره یعني ملا راویښ کړو ورته یې وویل جګ شه چې غله راغلي دی ملا په کراره ورته په غوږ کې وویل چپ شه که څه شي یې پیدا کړل ورڅخه به یې واخلو. غله چې ښه ګرزیدل څه شی یې پیدا نه کړل بیرته روان شول ملا نصرالدین او ښځې یې ور پورې وخندل غلو مخ راواړاوه ورته یې وویل: خاندی، خاندی، ښه کور مو کړی دی. دا ماشومان او تنکي ځوانان چې له خپلو کورونو سره دي وران وطن ته راځي او د پردیو هیوادونو ارامي، سوکالي، ژوند او انساني سلوك یې لیدلی خامخا به خپلو مشرانو هیوادوالو ته وایې چې ښه کور مو کړی. واقعیت دادی چې زموږ په هیواد او دغو ځوریدلو خلکو باندې دوخت په ځانګړو شرایطو کې دیوه جوړشوي پلان له مخې داسې جګړه وتپل شوه چې د ژوند هر څه یې راته وران او هجرتونو ته یې برابر کړو هر څه چې وو تیر شول دهمدغو زړورو خلکو د میړانې او مبارزې نتیجه وه چې په خپل حرکت او پاڅون کې یې پوره بریاوي ترلاسه کړي خو اوس څه تصمیم په کار دی څه مو په اولنیو جګړو کې وران کړل او څه مو په خپل منځي جګړو کې. اوس د ټولو هغو هیوادوالو چې غواړي په رښتني توګه د هیواد او خلکو په خدمت کې حرکت وکړي وظیفه ده چې ملي یووالی په برخه کې کار وکړي او هغه د ګوتو په شمیر خلك چې له هغوی څخه د توپیر او تعصب بوی راځي د هغوی د کار، اجراتو او حرکاتو او ویناوو په برخه کې پوره څارنه او کنترول ولري او ټول په ګډه د یوه واحد افغانستان د جوړلو په برخه کښې هلې ځلې وکړو. او داسې کسان شته چې د ملي یووالي د بیا ګډوډولو په هلو ځلو کې او به خړوي او ماهیان په کې نیسي که څه هم ددې پیړی شرایطو او اصولو سره تعصبونه او توپیرونه نشي چلیدلی او ټول هیوادوال ورته څیر دي خو زموږ له ټولو مشرانو څخه دا غوښتنه ده چې د خپلو کښته کشرانو او کارکوونکو ټولی کړنې او حرکات تر څارنې لاندې ونیسي ترڅوموږ د خپلو بچیانو لپاره د بهرنیو هیوادونو او سیمو په څیر ارام اوسوکاله ژوند جوړ کړو او د هغوی دا پیغور چې ښه کور مو کړی دی له منځه یو سو او د هغوی دغه ترخه او تراژیدی خندا د خوښی په خندا بدله کړو.

د یدار

کابل شهر طلوع، تلاش و ترانه

متصدی صفحه: حسیب 'نوری'

شهر در هفته که گذشت

۱۶ سنبله:موظفین امنیتی نور اله و عبدالغنی رابه اتهام فروش ۳۵۰ گرام مواد مخدر دستگیر نمودند.

۱۶ سنبله: یک حلقه ماین که در جوار هوتل انترکانتیننتال جابجا شده بود توسط موظفین امنیتی کشف و خنثی گردید.

۱۶ سنبله:مسابقهٔ حسن قرائت قران عظیم الشان زیر نظر استاد قاری برکت الله سلیم در وزارت حج و اوقاف تدویر یافت.

۱۷ سنبله: در اثر یک حاثه ترافیکی در شهر کابل یکنفر کشته و ۹ تن دیگر مجروح شد. حادثه زمانی رخ داد که یک عراده موتر مینی بوس از تانک تیل مکروریان بطرف پل محمود خان در حال حرکت بود با یکعراده موتر نوع دینا تصادم نموده و باعث شهادت یکتن و مجروحیت ۹ تن از راکبین مینی بوس گردیدند.

۱۹ سنبله:موظفین امنیتی یکمقدار مواد انفلاقیه را که در دو خریطه جابجا شده بود در قسمت پل یک پیسه گی کشف نمودند

۲۰ سنبله:پروتوکول همکاری بین وزارت معارف و اداره همبستگی بلجیم عقد گردید.
به اساس این پروتوکول اداره همبستگی بلجیم در تربیت مسلکی هشتصد تن از معلمان مکاتب ولایت کابل. لوگر. پکتیا. ننگرهار و نورستان طی دوسال آینده با وزارت معارف همکاری می کنند
همچنان موسسه یادشده به تعداد دو صد تن از محصلان انستیتوت تربیه معلم را با پرداخت مدد معاش و بیست و دو نفر از پرسونل داخل خدمت را با پرداخت معاش تشویقی مساعدت مینماید.

۲۰ سنبله:بخاطر یادبود از قربانیان یازدهم سپتمبر سال گذشته محفلی از سوی وزارت اطلاعات و فرهنگ در هوتل کابل تدویر یافت.

۲۱ سنبله:یک عراده موتر کرولا مربوط گمرک میدان هوایی که به سرقت برده شده بود از مربوطات شهر کابل توسط موظفین امنیتی بدست امد.

۲۱ سنبله: عارضه تخنیکی یک لودسپیکر در لیسه زرغونه شهر کابل باعث وحشت و اضطراب شاگردان ان لیسه گردید.
اضطراب زمانی شدت یافت که به شاگردان اطلاع داده شد تا صنوف شانرا ترک نماید و از انفجار بمبی که گمان میرفت در ان مکتب جابجا گردیده است خود را نجات دهند.
